# هنر

پوهنمل مصطفی صفا



# هنر په عامه معنا

- د پښتو په کلاسیک ادب کې هنر هماغه معنا لري چې نن ورته کمال وایو.
- په پخواني یونان کې هم د هنر او فن تر منځ توپیر نه و.
- نن سبا له هنر ځخه مطلب «ښکلی هنر» دی.





# ښکلي هنرونه (Fine arts) کـوم دي؟


- **ادبیات:** «شعر، ډرامه، ناول، لنډه کیسه، ادبي ټوټه، ادبي راپورتاژ، ادبي لیک، ځانلیک...»
- **گرافیک هنرونه:** «نقاشي، رسامي، خطاطي، چاپ، صحافت، د لوحو، د کتاب د پوښتیو او پوسترونو ډیزاینونه...»
- **پلاستیک هنرونه:** «معماري، ښاري پلان، منظره لرونکي ځایونه، د ودانیو د ننه سینگارونه، ډبر تورږنه، ښکلي کالي، گاڼې او ...»
- دغه راز موسیقي، سینما، کارتون جوړول، جمناستیک، نڅا، اتڼ...








# ادبي آثار، ادبي میراثونه








# نقاشي او رسامي









معماري





د
لرگي
توږلو
هنر



# د اوبدلو هنر











# د حکاکی هنر



د لوښو جوړولو هنر








## کاغذي پنځوني




**موسيقي د هنر د يوې څانګې په توګه**

# ډبر توړنه









# د هنر وسایل

هنر په وسایلو کې څرګندېږي.

- که د هنر وسیله ژبه وي، له هغو نه ادب جوړېږي.
- که د هنر وسیله د غږونو ترمنځ تناسب وي، موسیقي ترې نه جوړېږي.
- که د مادي تراشل او یو پر بل اېښودل وي، هغه معماري ده.
- که د رنګونو اوډل او کارول وي، نقاشي او خطاطي ده.

(ځینې وخت دا ټول وسایل په یوه هنر کې راټولېږي. مثلاً سینما چې اووم هنر ورته وایي او ډېر کله څو هنرونه پکې یو ځای کېږي،)



# د هنر د تعریف ستونزه

دا چې هنر مختلف ډولونه، بې شمېره وسایل او د هغو د افادې بېلابېلې ذریعې لري، له همدې کبله د هنر لپاره یو واحد او ټولمنلی تعریف ډېر ستونزمن دی.

څېړونکو د هنر د واحد تعریف د نشتوالی په باب دوه لاملونه راوړي:



# لومړی لامل

خېړونکي وايي:

هنري کيفيتونه درک کېدای شي، مګر تعریفېدای نه شي.

د هنر کار همېشه د ساینسپوه له کار سره توپیر لري. مثلاً، ساینسپوه کولی شي، د یوې هنري تابلو مساحت معلوم کړي او ارقام يې ولیکي، لېکن د تابلو د ښکلا د معلومولو لپاره هماغسې دقیق مقیاس نه شي رامنځ ته کولی.

(ښکلا خپل ځان ارقامو ته نه سپاري.)



# دویم لامل

هنر له انفرادي ځکې او شخصي ذوق سره نږدې پیوند لري.

د مثال په توګه ځینې کسان د هند د کلاسیکې موسیقۍ مینه وي او ځینې نور په مشکله سره کولی شي، د هغو اورېدو ته ځان ټینګ کړي.

له هنر سره نااشنا کسان له یوه هنري شهکار څخه خوند نه شي اخیستلای. که یوه عامي شخص ته د پیکاسو تابلو ډالۍ کړو، ښایي ووایي: «ورکه یې کړه، په وړلو نه ارزي.»

دغه راز که یو شهکار ناول یا د شعر دېوان ورکړو، نو ممکن ووایي، هسې چټیات دي!



# د هنر ځينې تعريفونه


- هنر د غږونو ، کليمو ، رنګونو، حرکاتو او نورو داسې عناصرو يو داسې شعوري توليد او منطقي ترتيب ته ويل کيږي چې د انسان د ښکلا احساس را وپاروي.

هنر د يوه پايښت لرونکي شي يا يوه شانداره عمل تخليق دى چې نه يوازې هنرمن له خپل ايجاد څخه پوره خوند اخلي، بلکې په هنر پوه کتونکي او اوريدونکي ته هم خپله خوندوره انطباع ورليږدوي.



# د هنر ماهيت (۱)

- ارسطو وايي، هنر د طبيعت تقليد دی، يا د طبيعت کاپي کول دي.
- د ارسطو په اند د انسان په ماشومتوب کې په فطري ډول د تمثيلولو ظرفيت لري او له دې تمثيل نه خوند اخلي.
- يعنې هغه څه چې په چاپېريال کې شته او ماشوم وغواړي هغه بېرته يو ډول ايجاد کړي، که چېرې له اصلي شي سره ورته وي، له دغه ايجاده خوند اخلي او د هنر ايجاد هم له دې ځايه دی.






# د هنر ماهیت (۲)

**هنر د انسان ایجاد دی.**

**د مثال په ډول، یوه ښایښته ونه ده، موږ ورته گورو، خو موږ هنري اثر ورته نه وایو، ځکه چې د انسان تولید نه دی.**



# د هنر په اړه د تولستوی نظر

[هنري اثر د هنرمن او د کتونکي یا اورېدونکي تر منځ یو ډول رابطه ده، چې د هغې په ترڅ کې هنرمن خپل احساسات مقابل لوري ته ور انتقالوي. هنر د هنرمن د احساساتو د لېږدولو وسیله ده. که احساسات په مستقیمه توګه او بې له کومې واسطې مقابل لوري ته ورانتقال شي، دا هنر نه دی.

د مثال په ډول، که یو څوک ژاړي او د هغه ژړا نور خلک متاثر کړي یا له دردە زګېروی کوي او د خلکو د خفګان سبب شي، دې ته هنر نه ویل کېږي.

هنرمن هغه څوک دی چې خپل ربښتیني احساسات په هنرمندانه توګه (د حرکتونو، اوازونو، رنګونو، لفظونو او کرښو) په ذریعه نورو ته ور انتقال کړي.

که یو ماشوم لېوه نه وي لیدلی، خو د لېوه څخه ډېر وېرېږي او دغه وېره نورو همځولو ته په داسې الفاظو او داسې وېروونکو صحنو کې څرګنده کړي چې نور ماشومان هم د وېرې احساس وکړي، نو ویلی شو، چې نوموړی ماشوم هنرمن دی.]



# د هنر ماهیت (۳)

- ویل کیږي، هنر د انسان د ژوند لومړۍ درجه ضرورت نه دی، بلکې د انسان د ذوق او ښکلا خوښوونې په موخه ایجادیږي.
- که معماري ته پام وکړو؛ موږ کور او سرپناه ته اړتیا لرو، بیا وروسته هڅه کوو، سرپناه مو ښکلې شي. دلته هنر پکې داخلیږي.
- د هنر د ایجاد لپاره یوازې طبیعت کافي نه دي، بلکې د انسان فردیت، تخیل، احساسات او ذوق هم پکې ورزیاتیږی.



# هنري فاصله

- هنر له طبیعت څخه فاصله اخیستل او دغې فاصلې ته د خوند ورکولو لار ورکول دي.
- له فاصلې څخه مطلب دا چې؛ هنرمن کټ مټ یو شی نه کاپي کوي، بلکې یو څه پرې ورزیاتوي او یا کموي.
- که یو انځورګر د غروب یوه منظره رسموي، نو که یې کټ مټ هغسې وباسي، لکه عکاس چې یې زموږ سترګو ته درولې ده، ده هنر نه دی کړی. دی باید یو څه پرې ورزیات کړي چې هنري اثر شي. خپل عواطف، غم، خوشحالي، پیغام یا بل کوم انساني مفهوم.



یو شمېر پوهان وايي چې ښه او حرفه اي عکاسي هم په هنر کې راځي.

ځکه عکاس چې کله عکس اخلي، هغه واقعيت ته ګوري، طبيعت ته ګوري، بیا په طبيعت کې یوه برخه انتخابوي. د دغې برخې لپاره یو ليدلوری انتخابول، دا ټول هغه څه دي چې د ده له عواطفو سره تړلي دي.




# ولې هنر؟

- د هنر وظیفه دا ده چې ژوند ښکلی کړي.
- هنر باید په داسې توګه طبیعت بېرته تغیر کړي، چې بدرنګي پکې پټه کړي.
- که د ژوند واقعیت او برخلیک ته وګورو، نو له ځانوژنې پرته بل څه نه پاتې کېږي. د دې لپاره چې ژوند د زغملو شي، هنر ته اړتیا ده، چې واقعیت راته په هغه بڼه څرګند کړي چې موږ یې غواړو.






- ژوند له نیمګړتیاو ډک دی، طبیعت له نیمګړتیاو ډک دی، انسان غواړي دغه نیمګړتیاوې په خپل حال ونه ویني، نو چې بله وسیله ونه ولري، د هنر او تخیل په وسیله دغه نیمګړتیاوې له منځه وړي.
- هنر انسانان یو د بل لپاره د زغم وړ ګرځوي، یا یې یو بل ته نږدې کوو.


(مثلاً، یو نقاش د یوه غمجن ماشوم څېره انځوروي، دغه انځور که هر څوک ګوري، له ماشوم سره د همدردۍ احساس ور پیدا کېږي او په دې ډول دغه هنري پارچه مختلف کسان په احساسي لحاظ سره نږدې کوي.)



- زه که د دویم نړیوال جنګ فلم ګورم، نو داسې راته ښکاري، لکه زه چې په هماغه جبهه کې یو عسکر یم، د عسکر په مرګ غمجن کېږم. د یوې حملې په په نتیجه کې وارخطا کېږم. له حالاتو سره داسې ارتباط نیسم، لکه زه چې هماغه میدان کې یم.




- هنر موږ ته په یو بل وخت کې د بل په ژوند کې د شریکېدو چانس راکوي.

(مثلاً، زه یو ناول لولم، د کلیوالو په ژوند کې شریکېږم. بل ناول لولم، زرکاله پخوا د یوه پاچاه په ژوند کې شریکېږم، یو شعر لولم، د ۵۰۰ کاله پخوا عاشق زلمي د زړه غږ اورم.

# له پاملرنې مو مننه



# پوښتنې؟

